# مطبوعاتي اعلاميه

## پرېکون لازمي دی، خو حللاره نه ده؛ بلکې يوه غلط فهمي ده چې خلک پرې غولېږي او داسې احساس ورکوي چې خپل مکلفيت يې ترسره کړی دی!

(ژباړه)

الازهر شريف د يوې جنجالي اعلاميې په ترڅ کې پر مسلمانانو غږ کړی، چې له ټولو سياسي، ډيپلوماټيکو او ولسي وسايلو کار واخلي، تر څو په فلسطين کې د وينو تويولو د مخنيوي او د اسلامي مقدساتو، په ځانګړې توګه د الاقصی جومات د ساتنې لپاره د يهودي دولت له محصولاتو سره د پرېکون د بيا فعالولو لپاره هڅې وکړي. دغه غوښتنه داسې مهال کېږي، چې په فلسطين کې پېښو شدت موندلی او دغه اقدام د فلسطين د خلکو د ملاتړ لپاره يو مهم ګام بلل شوی دی. الازهر ټينګار وکړ چې پرېکون د ولسي مقاومت له خورا مهمو بڼو څخه دی چې د اشغال پر وړاندې د فشار په راوستلو کې مرسته کولای شي. په دغې اعلاميه کې د فلسطينيانو د حقونو د نقض په اړه ژوره اندېښنه څرګنده شوې او د هغوی له عادلانه مبارزې سره د نړيوالې همکارۍ پر اهميت ټينګار شوی دی. د الازهر علماوو وويل چې د پرېکون بيا فعالول يو روښانه پيغام دی چې د فلسطين د قضيې په ملاتړ کې د اسلامي امت د چمتووالي کچه ښيي. الازهر د ځينو حکومتونو له لوري د هڅو د زياتولو او د فلسطين د قضيې له ملاتړو اسلامي هېوادونو سره د همکارۍ د پياوړي کولو غوښتنه وکړه. (اخبار الغد ۲۰۲۴/۹/۱)

د فلسطين قضيه د ټول امت لپاره يوه محوري مسله ده، چې مشري يې مصر کوله او د سپېڅلې خاورې ساتونکی و. له څو لسيزو وروسته، له همدې ځای څخه ناصر صلاح الدين د صليبيانو د الاقصی جومات د ازادۍ لپاره پاڅون وکړ. اوس دغه سپېڅلې خاوره د يهودانو له لوري اشغال شوې ده، چې هلته اسلامي مقدساتو ته سپکاوی کوي او زموږ د خلکو وينې تويوي. مسله يوازې د ۲۰۲۳م کال د اکتوبر له ۷مې نه، بلکې له هغه وخت راهيسې پيل شوې، چې د دوی چټل قدمونه زموږ پر سپېڅلې خاوره کېښودل شول. نو ولې دا د پرېکون غوښتنې وخت ناوخت راپورته کېږي؟ ايا امت له پرېکون پرته بل څه نه شي کولی؟ ايا پرېکون کومه ګټه لري؟ امت بايد د فلسطين له خلکو سره څه وکړي؟

پرېکون پر مسلمانانو لازم دی. له يهودي دولت سره - چې په حقيقت کې په جګړه کې ښکېل دی او د فلسطين سپېڅلې خاوره يې اشغال کړې ده- هېڅ سياسي، سوداګريزې يا کلتوري اړيکې نه شي جوړېدلی. سره له دې چې د يهودي دولت پر وړاندې پرېکون لازمي دی، خو دا د کمزورو کار او د هغه څه برعکس عمل دی، چې په عمومي توګه امت او په ځانګړې توګه د مصر خلک پرې باور لري، ځکه هغوی يهودي دولت په يوه ورځ کې له

منځه وړلی شي. د مصر د خلکو له لوري پرېکون کول هغوی له خپل ستر مکلفیت څخه، چې د یهودانو پر وړاندې جګړه کول او د لومړۍ قبلې او د درېیم سپېڅلي ځای ازادول دي، نه شي خلاصولی. پرېکون له لومړۍ ورځې څخه یوازې د خلکو نه، بلکې د دولت مکلفیت دی چې د وارداتو او صادراتو د مخنیوي واک لري. که دولت دا کار وکړي، پرېکون به په طبیعي ډول ترسره شي، خو که دولت وارداتو او صادراتو ته دوام ورکړي او خلکو ته د پرېکون امر وکړي، نو دا یوه مسخره ده! دولت تل د پرېکون غوښتنه نه کوي؛ بلکې هغه وخت یې کوي چې یهودیان د سپېڅلې خاورې پر وړاندې خپل وحشت زیاتوي، زموږ د خلکو وینې تویوي، د امت مقدساتو ته سپکاوی کوي او د سپېڅلو ځایونو بې عزتي کوي! کله چې د یهودانو پر وړاندې د خلکو غوسه زیاته شي او دغه غوسه د شرمېدلو رژیمونو پر وړاندې چې دغه غاصب دولت ساتي، د اور په څېر د چاودېدو په حال وي، نو دغه غوښتنې رامنځته کېږي چې خلک ارام کړي!

سره له دې چې پرېکون لازمي دی، خو دا په فلسطین کې زموږ خلک نه شي خوندي کولی او د یهودانو پر وړاندې د غرب ملاتړ هم نه دروي. دا په حقیقت کې یو واقعي پرېکون نه دی. د مصر رژیم له یهودي دولت څخه طبیعي ګاز واردوي، او هغوی ته یې هغه ساحې وسپارلې چې د مصر په سمندري اوبو کې وې. همدارنګه، مصر د یهودي دولت لومړنی ملاتړی او د هغوی د سرحدونو نږدې ساتونکی دی. د مصر بندرونه د هغوی د اړتیاوو د پوره کولو لپاره کارول کېږي. سربېره پر دې، همدا رژیم دی چې د خلکو غوسه سړوي او د مصر خلک او پوځ د ټول فلسطین له ازادولو منع کوي.

د الازهر علما یا په ټوله کې د امت علماو د دې پر ځای چې د پرېکون غوښتنه وکړي، باید د هغو پوځونو د بسیج کولو غوښتنه وکړي چې د فلسطین د ازادولو پوره وړتیا لري. د فلسطین خاوره په ټول امت پورې اړه لري او دوی پوهېږي چې له ایمان وروسته تر ټولو لوی فرض د هغه چا مخنیوی دی، چې د اسلامي خاورو یوه لویشت یې غصب کړې وي. ابن عابدین په "حاشیه" (۲۳۸/۳) کې وایي: "که دښمن د اسلام پر یوه سرحد برید وکړي، نو دفاع یې پر هغه چا فرض عین ګرځي چې دغه سرحد سره نږدې وي. خو د هغو کسانو لپاره چې له دښمن څخه لرې دي، نو که دوی ته اړتیا نه وي، نو د هغوی لپاره کفایي فرض دی. که چېرې دوی ته اړتیا وي، داسې چې نږدې کسان د دښمن پر وړاندې مقاومت نه شي کولی، یا که دوی په دې کې سست وي او جګړه نه شي کولی، نو دا پر هغو کسانو فرض عین ګرځي چې له دوی سره نږدې وي. داسې فرض لکه لمونځ او روژه چې پرېښودلی یې نه شي. او همداسې پر نور امت، تر هغې چې دا پر ټولو مسلمانانو په ختیځ او لویدیځ کې په تدریجي توګه فرض ګرځي".

د امت لپاره یوازې د پرېکون غوښتنه له فرض جهاد څخه انحراف او له دغې اړتیا څخه پام بلخوا اړول دي چې پوځونه باید د سپېڅلې خاورې د خلکو د ملاتړ لپاره بسیج شي او د هغو حکامو محاسبه وکړي چې زموږ د خلکو د ملاتړ په برخه کې ناکام دي. نو ځکه، پرته له دې چې د پوځونو د بسیج غوښتنه وکړي، یوازې د پرېکون غوښتنې د فلسطین د خلکو لپاره خطر دی، ځکه چې دا خلکو ته یو ناسم احساس ورکوي چې دوی د سپېڅلې خاورې لپاره خپل مکلفیت ترسره کړی دی. دا د هغوی د ناکامۍ بله بڼه ده، داسې احساس پیدا کوي چې د ډېر څه کولو وړتیا نه لري؛ په داسې حال کې چې امت د هر څه کولو وړتیا لري. خلک کولی شي د دغه رژیم پر وړاندې، چې یهودي دولت ساتي، ودرېږي او د مصر له پوځ څخه وغواړي چې دا او هر هغه څه چې د فلسطین د ازادۍ او د اسلامي دولت د جوړولو ترمنځ خنډ دي، له ریښو څخه وباسي. اسلامي دولت به دوی د هغه څه کولو ته هڅوي چې الله سبحانه و تعالی پرې فرض کړي او د فلسطین په ګډون د امت ټولې اشغال شوې خاورې به ازادې کړي او د مظلومو خلکو ملاتړ به يې وکړي. دا پر الازهر او د هغه پر علماوو فرض دی چې خلکو ته وښيي چې پرېکون یوازې د محصولاتو نه پېرل نه دي، بلکې دا دی چې د لاسپوڅو جرړې يې وباسو او له یهودي دولت سره مو اړیکه یوازې د جګړې حالت وي، تر هغه چې دا سرطاني دانه له اسلامي خاورو پاکه کړو. دوی ته باید دا روښانه کړي چې الله سبحانه وتعالی د فلسطین، د فلسطین خاورې او اسلامي مقدساتو په اړه پر امت او د امت پر پوځونو څه شی فرض کړي. د مصر د پوځ لپاره د فلسطین ازادي تر ټولو ستر فرض دی او په حقیقت کې دوی د دې وړتیا لري چې په یوه ساعت کې دغه کار وکړي.

**اې د الازهر علماوو:** دا پر تاسو فرض دی، نو الله سبحانه وتعالی ته هغه څه وښایاست چې هغه يې له تاسو څخه خوښوي، د خیر او صداقت لپاره د لارښود رڼا شئ او د هغه رژیم پر وړاندې اور شئ چې له یهودي رژیم سره شریک دی او ملاتړ يې کوي؛ هغه څه ورته ووایئ چې جادوګرانو فرعون ته وویل:

**«فَاقْضِ مَا أَنتَ قَاضٍ إِنَّمَا تَقْضِي هَذِهِ الْحَيَاةَ الدُّنْيَا»**

**ژباړه:** *«نو هره پرېکړه چې کوې ویې کړه! ستا واک یوازې د دې نړۍ په ژوند کې دی."* [طه: ۷۲]

پوه شئ چې دا دسیسه به برعکس عمل کوي. الله سبحانه وتعالی د خپلو پوځونو ملاتړ کوونکی او د خپل دین ساتونکی دی، که څه هم د دښمنانو دا نه خوښېږي. نو خلک حق ته وهڅوئ؛ پر حق ثابت قدمه شئ او خلک پرې ثابت قدمه کړئ، تر څو چې د الله سبحانه وتعالی نصرت راشي. پوه شئ چې د الله سبحانه وتعالی جنت قیمتي دی، نو دا په حق سره وغواړئ او ستاسو اجر له الله سبحانه وتعالی سره دی. ښایي حق ستاسو په لاسونو سره تحقق ومومي او یو څوک به تاسو ته ځواب ووايي چې د اسلام ملاتړ وکړي او یو داسې دولت جوړ کړي چې حق پر خلکو تطبیق کړي او نړۍ ته د دعوت او جهاد له لارې د لارښوونې او رڼا پیغام ورسوي.

**«وَإِذْ أَخَذَ اللهُ مِيثَاقَ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ لَتُبَيِّنُنَّهُ لِلنَّاسِ وَلَا تَكْتُمُونَهُ فَنَبَذُوهُ وَرَاءَ ظُهُورِهِمْ وَاشْتَرَوْا بِهِ ثَمَناً قَلِيلاً فَبِئْسَ مَا يَشْتَرُونَ»**

**ژباړه:** *«یاد کړه، اې پیغمبره، کله چې الله سبحانه وتعالی له هغو کسانو څخه عهد واخیست چې کتاب ورکړل شوی و چې خلکو ته یې ښکاره کړئ او پټ یې نه کړئ، خو دوی دغه کتاب شاته وغورځاوه او هغه یې په ټیټه بیه وپلوره. څه ناوړه سودا یې وکړه!»* [عمران: ۱۸۷]

**د حزب التحریر- ولایه مصر مطبوعاتي دفتر**

**۱۴۴۸ هـ.ق کال، د صفر ۲۸مه**

**۲۰۲۴م کال، د سپټمبر ۲مه**

**د صدور ګڼه: ۰۷/ ۱۴۴۶**

**ژباړن: اسرار تکل**